د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ
الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ
يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه ۳۰ شوال، ۱۴۴۴هـ | ۲۰۲۳/۰۵/۲۰م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۴/۰۸

مطبوعاتي اعلاميه

## امریکا د افغانستان د فضا پر اشغال ټینګار کوي، موږ د خلافت دولت پر تاسیس!

د امریکا د مرکزي ځواک "سنټکام" قوماندان جنرال مایکل کوریلا د جنورۍ له لومړۍ څخه د مارچ تر ۳۰مې د دوی د ځېرنیزو عملیاتو په اړه کانګریس ته وویل چې طالبان د خراسان څانګې له داعش سره د مبارزې لپاره پیاوړې اراده لري؛ خو د هغه په وینا د دې وړتیا نه لري چې په راتلونکي کې د دې ډلې د تروریستي بریدونو مخه ونیسي. د همدې لپاره امریکا د افغانستان پر فضا خپل نظارت زیاتوي. د نظارت د زیاتوالي لپاره هغوی د جاسوسۍ داسې هوایي وسایل ازمایي چې د اوږدمهال لپاره په فضا کې پاتې کېدای شي.

پر افغانستان د اسلامي امارت تر حاکمیت وروسته دا ځووم ځل دی چې امریکا د افغانستان د فضا د کنټرول خبره کوي. کله چې امریکا د افغانستان د ځمکې پر سر له نظامي ماتې سره مخ شوه، امریکا هڅه کوي چې له مختلفو لارو پر افغانستان خپل نفوذ بېرته ترلاسه کړي.

په افغانستان کې د جمهوریت په راپرځېدو په دې جغرافیه کې د امریکا د استخباراتو کابو ټولې کړۍ وشلېدې؛ د جمهوریت نظام، د امریکا سفارت، امنیتي بنسټونه، نادولتي سازمانونه... دغو ټولو د CIA د رسمي جاسوسانو تر څنګ د امریکا لپاره استخباراتي چارې پر مخ وړلې؛ خو د امریکا نظامي ماتې دا کړۍ وشلولې او امریکا یې اندیښمنه کړه. نو د افغانستان پر فضا کنټرول؛ د تجسس دوام، د هغو کسانو په نښه کول چې د امریکا نه خوښېږي او همدارنګه پر اسلامي امارت د فشار په مانا دی؛ څو له یوې خوا له امریکا سره استخباراتي همکارۍ ته چمتو شي، چې پر ځمکه د هغوی استخباراتي تشه ډکه کړي او له بلې خوا د اسلامي امارت مشرانو ته تل اخطار ورکړي چې د اسلام په پلي کولو، د امریکا د ګټو او سیکولر ارزښتونو د نه پیروۍ په صورت کې به په نښه کړل شي.

امریکا د اشغالګرۍ سیاست ته دوام ورکوي، هر ځای چې خالي فضا پیدا کړي، نفوذ پکې کوي او حریمونه یې ماتوي. پر دې سربېره ځان د ځینو اصولو مدافع هم ګڼي، چې ګواکي بشرپال دي. په دې اړه د سیمې هېوادونه هم خپلو خیانتونو ته دوام ورکوي او خپل هوایي دهلیزونه د امریکا د جاسوسۍ الوتکو ته پرانیستي پرېږدي، ترڅو په سیمه کې امریکا خپلې نظامي او استخباراتي موخې وڅاري او له منځه یې یوسي. د ایمن الظواهري شهادت له همدغو بېلګو څخه یو دی. امریکا خپلو دغو موخو ته «د تروریزم پر وړاندې د مبارزې» تر نامه لاندې ادامه ورکوي، په داسې حال کې چې تر همدغه نامه لاندې امریکا ۲۰ کاله په اسلامي خاورو کې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې وجنګېده.

نو په افغانستان کې اساسي بدلون په سیمه کې په اساسي بدلون پورې تړلی دی. که منځنۍ اسیا او پاکستان د افغانستان پر محور یو له بل سره راټول نه شي، دروغجنې او استعماري پولې ماتې نه شي؛ باید پوه شو چې د افغانستان او نورو مسلمانانو پر وړاندې به د سیمې د هېوادونو خیانت ونه درېږي او همدارنګه له امریکا سره به یې همکاري ادامه ولري. له بلې خوا دغه تغییر باید د اسلام پر اساس وي. که دغه جغرافیه د اسلام او واحد امت د مفهوم پر اساس راټوله شي او په دې جغرافیه کې د خلافت دولت بنسټ کېښودل شي؛ خاینان حذف کېږي او د دې تر څنګ چې د الله تعالی نصرت راجلبېږي، د دغه امت مفکرین او امکانات به هم دې جغرافیې ته راټول شي او هغه مهال به ځمکه او هوا له اشغاله پاکه کړي او حتی دښمن به د هغوی په خپله جغرافیه کې له ګواښ سره مخ کړي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**